مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۳/۰۶

# وهابيان څوک دي؟

## شپږمه برخه

مفسرين:
په دې کې هيڅ شک نسته چې مفسرين ډېر لوی علماء، ټينګ مسلمانان او د پاکو عقايدو څښتنان ول او کوښښ يې کاوه چې خلک د قرآن شريف له واقعي معنا او مفهوم سره آشنا کړي؛ خو په اسلام کې د عقايدو د اختلاف د رامنځته کېدلو يو اساسي عامل همدغه مفسرين دي؛ چې بايد په قرآن شريف د خلکو د بنه ترا پوهولو او د هغوی ترمنځ د اتحاد راوستلو عامل وای. د دې خبري څرګند علت دا دی چې د اسلامي نړۍ په سلو کې ۹۰ انسانان بنايی په عربي ژبه ونه وپوهيږي او که په وپوهيږي نو د تفسير درک کول به ورته ګران وي او که په يوه تفسير پوه سي نو له بل تفسير سره د مقايسې کولو توان او صلاحيت نه لري او که خبره درېو او څلورو تفسيرونو ته ورسيږي دا نو يوازي د لويو ديني علماوو کار سو؛ او دين يوازي د علماوو لپاره نه بلکه د ټول عالم اسلام لپاره دی.
تر هر څه لومړی بايد دا خبره وکړو چې قرآن شريف، د حق متعال د خپل کلام په اساس، په ساده عربي ژبه نازل سوی دی تر څو ټول په وپوهيږي. د سورة بقرة دوهم او دريم آيتونه وايي دا هغه کتاب دی چې هيڅ شک او شبهه پکښی نسته او هغو پرهيزګارانو ته هدايت کوي چی پر غيب يې ايمان راوړی وي، لمونځ کوي، زکات ورکوي او له ورته ټاکل سوي رزق څخه نفقه کوي. د سعودي عربستان په عربي پښتو چاپ کي يې، په ورستي جمله کي، د نفقې له کلمي وروسته، په قوس کي ورته ليکلي دي( د الله تعالی د رضا لپاره) د آية مبارک پر ترجمه باندي خپله جمله زياتول د هغه مقدس کتاب سره بې ادبي ده؛ ځکه چې دا وروستی په قوس کي راغلي کلمه په آية کي نسته.
حق متعال د آل عمران سورة ۳ په اووم آية کي راوړي دي: الله هغه ذات دی چي پر تا باندي يې کتاب نازل کړی دی. په هغه کي محکمات دي چي هغه د دی کتاب اصلي برخه ده. او په دې کي متشابهات دي. هغه کسان چې په زړونو کي کوږوالی وي هغه د فتنو د ايجادلو لپاره د دغو آيتونو په معناوو پسي ګرځي او د هغوی په تأويل پرته له الله بل څوک نه پوهيږي.
هُوالَّذی انزل عليک الکتب منهُ ءايتٌ محکمتٌ هُنَّ اُمُّ الکتب و اُخرَ مُتشبهتٌ فامّا الذين فی قلوبهم زيغٌ فيتبعون ما تشابه مينهُ ابتِغآءَ الفتنة وابتغآءَ تأويلِهِ و ما يعلم تأويليه الاالله والراسخون فی العلم يقولون ءامنّا بِهِ کُلٌّ من عند ربّنا و ما يذکَّرُ الّا اولوالالباب.
( محکمات هغه آيتونه دي چي معنا يې څرګنده او هغه د قرآن شريف اصلي برخه بلله سوي ده او متشابهات هغه آيتونه دي چي معنا يې څرګنده نه ده او منافقان د خپلو فتنو او شومو اهدافو لپاره د هغوی په تأويل پسي ګرځي)
نو کله چي حق متعال پخپله وايی چي د دې کتاب محکمات، يعني هغه برخه چي معنا يې څرګنده ده، د کتاب اصلي برخه ده نو بيا ولي مفسرين په متشابهاتو پسي ګرځي؛ په داسی حال کي چي حق متعال په همدغه آية مبارک کي وايی چي د متشابهاتو په تأويل پرته له ده نه بل څوک نه پوهيږي.
د همدغه آية وروستی برخه وايي: څوک چي پر علم باندي ټينګ دي هغوی وايی چي موږ پر ټول کتاب باندي، چي زموږ د رب له لوري نازل سوی دی، ايمان راوړی دی؛ او دا خبره يوازي د عقل خاوندان کوي.
که چيري بيا هم د قرآن شريف تفسيرولو ته حتمي ضرورت وو نو بيا خو لازمه وه چي د اسلام د ټول قلمرو، د صلاحيت خاوند، علماء او فُضلا سره راغونډ سوي او يو تفسير يې په ګډه ليکلی وای. مګر هغسی ونه سوه او هر عالم، چي په ځان کي يې د تفسير ليکلو او تأويل توان درلود نوي تفسير ليکلو ته ملا وتړله؛ څو تر نورو عالمانوکم رانه سي. په دې کي شک نسته چي تفسيرونه بايد يو له بله عميق او يا سطحي توپيرونه ولری ځکه چي که توپير سره ونه لری نو بيا خو يې د ليکلو ضرورت نه ليده کيږي. اوس به نو څوک دې لس هاوو تفسيرونو او سل هاوو جلدونو ته مراجعه کوي او څرنګه به په هغوی کي سمه لاره پيدا کوي بلکه بنايی سمه لاره ورځخه ورکه سي. سره له هغه چي حق متعال ويلي دي چي د محکماتو په تأويل يوازی هغه ذات پوهيږي؛ مګر مفسيرنو بيا هم خپل کار کړی دی. دلته به د اهل سنت والجماعت د څو تفسيرونو مثالونه راوړو:

۱: جامع البيان فی تفسيرالقرآن ـــــ ابوجعفر محمدبن جرير طبري – ۳۰ جلده
۲: مفاتيح الغيب/ تفسير الکبير ---- فخرالدين رازی --- ۳۲ جلده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

۳: تفسیرالقرآن العظیم ــــــ اسماعیل بن عمر بن کثیر ـــ ۹ جلده
۴: الجامع الاحکام القرآن ---- محمد بن احمد قرطبی ---- ۲۰ جلده
۵: ارشاد العقل السلیم الی مزایا القرآن الکریم ــ محمدبن محمد ابوالسعود --- ۹ جلده
۶: تفسیر روح البیان ـــ اسماعیل حقی بروسوی ـــ ۱۰ جلده

او په لس هاوو نور تفسیرونه، د سلو او سوونو کلونو په فاصله ولیکل سول چي ټول له یوه بل څخه ډېر زیات یا لږ توپیر لري؛ او پرته له دې چي له سرې څخه د قرآن شریف اصلي معنا ورکه کړي بل کار یې نه دی کړی.
په دې میدان کي باید اهل تشیع، چي په وروسته کي یې مذهب له هري خوا له اهل تسنن څخه توپیر درلود، خپل تفاسیر ولیکل او لا یې هم لیکي:

۱: التبیان فی تفسیرالقرآن ــ شیخ محمدطوسی --- ۱۰ جلده
۲: روض الجنان و روح الجنان --- ابولفتوح رازی --- ۲۰ جلده
۳: کشف الاسرار وعدت الابرار --- ابوالفضل رشیدالدین میبدی --- ۱۰ جلده
۴: الفرقان فی تفسیرالقرآن بالقرآن والسنه ــ محمدصادق تهرانی --- ۳۰ جلده
۵ : فرهنگ قرآن ---- اکبرهاشمی رفسنجاني --- ۳۳ جلده
۶: تفسیرنمونه --- ناصر مکارم شیرازی --- ۲۷ جلده
۷: تفسیرتسنیم --- عبدالله جواد آملي --- تر اوسه پوري ۵۴ جلده له ۸۰ جلدو څخه

او په لس هاوو نور تفسیرونه چي له پنځو څخه تر لسو جلدونو پوری دي.
د دې تفسیرونو په اساس، په زرهاوو مذهبي کتابونه هم د اهل تسنن او هم د اهل تشیع د عقایدو په اساس ولیکل سول.
اوس به نو سړی دا په زرهاوو کتابونه، چي اکثر یې یو له بله عمیق توپیر سره لري څرنګه مطالعه کوي. او که یو څوک احیاناً دا ټول کتابونه ترلاسه کړي او ویې لولي نو څرنګه به له هغو۷۳ لارو څخه، چي حضرت رسول اکرم ویلي دي یوازي یوه لاره جنت ته تللي ده چي هغه د ده لاره ده، هغه سمه لاره پیدا کوي. البته دا لاره چي تر اوسه پوري چا نه ده پیدا کړې په راتلونکي کي به یې هم په هیڅ توګه پیدا نه کړي او که دغه مفسرین ژوندي او فعال ول لا به نور هم د خلکو د ګمراهی سبب سي؛ ځکه چي هر یو خپله لاره، تفسیر، تعبیر او تأویل بهتر بولي او زما په څېر بېسوادانو او کم سوادانو لپاره غیر ممکنه ده چي د دریو تفسیرونو تر منځ سم قضاوت وکړي. د مثال په توګه به د موسیقۍ په باره کي یو مثال راوړو چي د اهل تسنن او اهل تشیع تقریباً ټولو مفسرینو ناروا بللې ده، او قضاوت به خپلو لوستونکو ته پرېږدو:
یوه ځوان ته مي وویل چي د موسیقی ذکر په قرآن شریف کي نه دی راغلی نو سړی به یې څرنګه ناروا او حرامه وبولي. هغه راته وویل چي د ابن کثیر په تفسیر کي د سورة لقمان شپږم آیة وګوره تاته به قناعت حاصل سي. ما ویل چي د موسیقی کلمه له سره یاده سوې نه وي نو تفسیر به پر څشي بناء وي. زما سره د ابن کثیر تفسیر نسته خو د تفسیرکابلي، تفسیر یوسف علي او د سعودي عربستان ټول تفسیرونه تقریباً یو شان حکمونه لري او د هغوی له احکامو څخه، که څه هم چي د قرآن کریم د مبارک آیة د ترجمې څخه یو څه زیاتي هم پکښې سوی دی، داسي هیڅ نه ښکاري چي موسیقي دي حرامه بلل سوې وي. بلکه د قرآن شریف له څرګند آیة څخه یې پر خپل زړه برابره معنا اخیستې ده. دې مفسرینو ټولو دغه یوه آیة ته اشاره کړې او تفسیر کړی دی:
و من الناس من یشتری لهوالحدیث لِیُضِلَّ عن سبیل الله بغیر علم و یتخذها هُزواً اُولاءِک لهم عذاب مهین. ترجمه: او هغه کسان چي چټي خبري په بیه اخلي څو نور کسان د حق تعالی له لاري څخه بې لاري کړي او د خدای پر لار باندي ټوکي کوي. دې ډلې ته توهینوونکی عذاب ګوري.
تفسیرکابلي: « دا د هغو بدبختانو ذکر دی چي د جهالت او نادانی په وجه یې قرآن کریم ترک وهلی او په رقص او سرود، لهولعب او نورو خرافاتو کي غرق دي او غواړي چي نور کسان هم له لاري واړوي او د دین پر خبرو باندي ریشخندونه وهي.
حضرت حسن رض ویلي دي چي لهوالحدیث هغه دی چي سړی د خدای له عبادت څخه راګرځوي لکه ټوکي ټکالي او د چا مسخره کول، چټي کارونه کول او ساز و سرود او داسي نور. په روایاتو کي راغلي دي چي نضربن حارث، چي د کفارو له مشرانو څخه وو فارس ته په تجارت تلی او له هغه ځایه به یې له ځان سره د عجم د شاهانو کیسي راوړلي او قریشو ته به یې ویل چي محمدص تاسي ته د عاد او ثمود کیسي کوي راسی چي زه د رستم او اسفندیار کیسي درته بیان کړم. ځینو کسانو به د هغه له کیسو سره علاقه وښودله. دغه راز یې یوه سندرغاړې کنیزه هم درلوده چي هر څوک به یې ولیدی چي زړه یې نرم سوی او اسلام ته مایل سوی دی نو هغه کنیزه به یې ورمخته کړه څو دی په ساز او آواز مشغول کړي او بیا به یې هغه شخص ته وویل چي وګوره دا بهتره ده که د محمدص خبري چي وایي لمونځ وکړی، روژې ونیسی او زحمتونه وګالی. ځکه نو دغه آیة نازل سو.
تنبیه: که څه هم چي یو آیة به د یوې خاصي پېښی په اړه نازل سوی وي مګر څرنګه چي الفاظ یې عام دي حکم یې عام دی. هغه لهو چي د هغه په اساس سړی د اسلام له دین څخه ګرځي حرامه بلکه کفر دی. او هغه شیان چي سړی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د اسلام د ضروري شرعي احکامو څخه را ګرځوي او یا د ګناه سبب کیږي هغه پخپله ګناه ده. بلې هغه لهو چې د کوم واجب امر د قضا کېدلو سبب ونه ګرځي او یا په هغه کې کوم غرض او شرعي مصلحت موجود نه وي هغه مباح دی؛ مګر څرنګه چې چټي او بیهوده دی نو له هغه څخه لیري والی بنه دی» تفسیرکابلي جلد پنجم ص ۴۷
مفسر وایی هغه لهو چې د هغه په اساس سړی د اسلام له دین څخه ګرځي حرامه بلکه کفر دی. سړی نه پوهیږي چې مفسر د موسیقی پر اوریدلو باندي د کفر حکم له کومه ځایه کړی دی. موسیقي ولي سړی د اسلام له دین څخه ګرځوي؟ سړی کولای سي هم موسیقي واوري او هم لمونځ پر خپل وخت وکړي. د هر عمل لپاره چې لمونځ قضا سي ګناه لري خو ګناه د د هغه عمل نه بلکه د لمانځه د قضاکېدلو ده. مفسر نه یوازي، پرته له هیڅ دلیله، موسیقي حرامه بللې بلکه د موسیقی اورېدل یې کفر بللی دی. په داسی حال کي چې کفر ډېره درنه کلمه ده. تر هغه وخته پوري چې یو څوک ځان مسلمان بولي، د شهادت کلمه وایی هغه که هر څونه ګناه کاروي. هغه که هر څونه ګناهونو ته دوام ورکړي د هغه لپاره دایمي دوږخ نسته. حق متعال به د قیامت په ورځ د بنو او بدو عملونو حساب ورسره کوي او د حساب او کتاب ورځ د همدغه لپاره ده. له کافر سره حساب نه کیږي بلکه هغه مستقیماً دوږخ ته ځي او بیا له هغه ځایه نه راوزي.
د یوسف علي تفسیر دا موضوع په تقریباً عین شکل خو یو څه په مختصره توګه را اخیستي ده او د سعودي عربستان تفسیر ټکي په ټکي د تفسیرکابلي متن را اخیستی دی.
که څه هم چې په ذکر سوي آیة کي د موسیقي ذکر نسته او په عمومي صورت لهو لعب ته اشاره سوي ده او هغه هم هغه لهو لعب ته چې څوک په قصدي توګه د خپل خدای له لاري را ګرځوي. او هغه لهو لعب هم، لکه چې د تفسیرکابلي د تنبیه په برخه کي یې وینو مطلق حرام نه دی بلل سوی او بې غرضه لهو ولعب مباح بلل سوی دی. دا اية مبارک، چې د هجرت څخه مخکي، یعني په مکه معظمه کي نازل سوی دی، په مشخصه توګه د نضر بن حارث په حق کي راغلی دی، چې ټوله کیسه یې ذکر سوه. دا چې د نضر بن حارث کیسه به ، په مشخصه توګه د موسیقی په برخه کي، تر کومه ځایه حقیقت ولري؛ د دې خبري معلومول به یو څه ګران وي ځکه چې دا کیسه زیاتره د افساني شکل لري او موږ لیکلی سند په لاس کي نه لرو.
لومړی خو که موسیقي په مطلقه توګه حرامه وای نو حق متعال به هغې ته په قرآن کریم کي د زنا، شرابو، قمار، سودخوری او نورو نواهیو په څېر اشاره کړې وای. او که موسیقی د لهو لعب په کتار کي را ولو بیا خو د معتبرو تفاسیرو په حکم، چې پورته مو یادونه وکړه، ټول لهو لعب حرام نه بلکه مباح دي. ځکه چې که ټول لهولعب حرام وبولو په هغه صورت کي د قنری آواز ته غوږ نیول، د الف لیله و لیله د نکلونو اورېدل، د ملګرو سره لوبې کول او لامبو کول او دغه راز ټول سپورټونه او کارونه ناروا او حرام دي.
او چې تر ټولو خبرو را تېر سو نو په اسلام کي هیڅ عالم او مجتهد د قرآن شریف د اوامرو او نواهیو په خلاف حکم کولو صلاحیت نه لري. اسماعیل بن عمر کثیر خپل تفسیر القرآن العظیم په نهو جلدو کي، په اتمه هجري پیړی کي، ترتیب کړی دی. لومړی خو هغه موسیقي حرامه نه ده بللي او که یې حرامه بللې وي نو له هغه سره د بل هیڅ عالم او مجتهد او فقیه په حیث دا صلاحیت نه وو چې هغه څه ته حرام وواییی چې حق تعالی په خپل کتاب کي اشاره قدر هم نه وي ورته کړي.
په دې برخه کي لا د حنبلي مذهبه ابن جوزي نظر ډېر په زړه پوري دی. هغه د خپلو اسلافو او معاصرو دیني علماوو په څېر له موسیقی سره ډېر سخت مخالف دی او وایی چې موسیقي په قران کریم کي ناروا بلله سوې ده. په دې کي شک نسته چې ابن جوزي ډېر ستر عالم او په مذهب او تاریخ کي د لس هاوو کتابونو لیکوال وو مګر، د هغه په شمول له هیڅ عالم سره داصلاحیت نسته چې په خپل حکم د ناروا او روا فیصله صادره کړي. این جوزي د موسیقی د تحریم په برخه کي په دریو آیتونو استناد کوي. خو له بده مرغه چې دی هم د آیتونو د ترجمه کولو او پر هغو باندي د نتیجي د بناء کولو پر ځای د مفسرینو په تفسیرونو او استدلال استناد کوي. لومړی آیة:
( و من الناس من یشتری لهو الحدیث) چې معنا یې ځیني هغه کسان چې چټي خبري په بیه اخلي یا چټي خبرو ته غوږ نیسي. خو ابن جوزي وایی« ابن مسعود ویلي دي په خدای مي دي قسم وي چې له لهو څخه مطلب موسیقي ده. دغه راز ابن عباس، مجاهد، عکرمه، حسن بصري، سعیدجبیر او ابراهیم نخعی هغم په دغه عقیده دي»
د ابن جوزي په څېر یوه عالم ته لازمه وه چې د حکم د صادرولو لپاره یې صریح آیة راوړی وای او د هغه په اساس یې قضاوت کړی وای. سړی حتی فکر نه سي کولای چې د ابن جوزي په څېر یو لوی لیکوال او عالم، د خپلي ادعا د ثبوت لپاره، د ابن مسعود په سوګند استناد کوي. آیا دا د منلو خبره ده؟
دوهم آیة: و انتم سامدن. یعني تاسي په غفلت کي ژوند کوی. ابن جوزي وایی« له ابن عباس څخه روایت سوی دی چې په حُمیري ژبه کي سمدلنا یعني غنا لنا یا موږ ته موسیقي. او مجاهد وایی چې یقول اهل یمن سمد فلا یعني کله چې سندره یې وویله»
اوس به نو سړی د دې لویانو په ترجمه او تفسیر کي څه ووایی؟ قرآن شریف په عربي ژبه نازل سوی دی او په هغه کي د حُمیري او یمني ژبو په اساس تعبیر ته څه ضرورت دی؟ په قرآن شریف کي په صراحت ویل سوي دي چې دا کتاب مو په عربي ژبه نازل کړ چې تاسی له هغه څخه عقل زده کړی. په دې صورت کي سړی د یوه آیة د ترجمه کولو او ځان پوهولو لپاره، چې په عربي ژبه نازل سوی وي څرنګه او د څه لپاره بلې ژبې ته مراجعه کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولـئ

دریم آیة: و استفرز من استطعت منهم بصوتک. چي مجاهد په دغه آیة مبارک کي د شیطان ږغ په ساز او آواز تعبیر کړی دی» ابن جوزي، تلبیس ابلیس ص ص ۲۴۷-۲۴۶
بشپړآیة: و استفرز من استطعت منهم بصوتک و اجلب علیهم بخیلک و رجلک و شارکهم فی الاموال و اولاد و عِدهم ما یعدهم الشیطان غرورا. سورة ۱۷ آیة ۶۴
ترجمه: هغه کسان چي ته یې کولای سې یا ستا په وس پوره وي په خپل اواز سره را پورته کړه او پر هغوی باندي په خپلو سپرو او پیاده لښکرو حمله وکړه. له خپلو لښکرو سره مال او ماشومان وویشه. او هغوی ته وعدې ورکړه مګر شیطان هغوی ته پرته له تېر ایستلو د هیڅ شي وعدې نه سي ورکولای. (ترجمه د سعودي عربستان له عربي انګلیسي څخه)
که په دې پورتني آیة مبارک کي او نورو ایتونو کي د حق متعال مطلب موسیقي او یا د موسیقۍ آلات وای نو ولې یې موسیقي په نوم نه یادوله. څرګنده خبره ده چي د حق متعال مطلب موسیقي نه وه او وروستۍ آیة خو بالکل د شیطان په باره کي نازل سوی دی او حق متعال هغه ته اختیار ورکوي چي  د ده د بنده ګانو د تېر ایستلو لپاره یې هر څه په وس کي وی هغه دې وکړي. ځکه چي حق متعال په قران شریف کي په ډېرو ایتونو کي ویلي دي چي چاته سمه لاره وښیي هغوی څوک نه سي ګمراه کولای او چي څوک ګمراه کړي نو هغوی بیا هیڅوک لاري ته نه سي راوستلای.
د مفسرینو په ښه نیت او علمي صلاحیتونوکي څوک شک نه لري. خود قرآن شریف په کلماتو او مفاهیمو کي په ښه نیت او بد نیت لاس وهنه او د هغه مفاهیمو او ترجمې ته تغییر ورکول د هر چا لپاره ناروا کار دی. او همدغه لاس وهني او راز راز تفسیرونه او تعبیرونه دي چي جهان اسلام یې پر سل ګونو فرقو وېشلی او هر یو وایی چي زما لاره سمه او پر شریعت برابره ده. په داسي حال کي چي حضرت پیغبرص ویلي دي چي یوازي یوه لاره جنت ته ځي.
مفسرینو نه یوازي ځیني تفسیرونه له ځانه جوړکړي دي بلکه د قرآن شریف په ترجمه کي یې هم لاس وهلی دی. د مثال په توګه د سعودي عربستان عربي په انګلیسي تفسیر کي د څلورم سورة شپاړسم آیة: والّذانِ یأتِیا نها مِنکم فأُذو هُما الآیة
ترجمه: که په تاسي کی دوه نارینه لواطت وکړي نو تاسي سزا ورکړی. یعني فأُذوهما په سزا ترجمه سوی دی. په داسي حال کي چي دا کلمه د آزار ورکړی معنا ورکوي.
آزار ورکول یو کیفي مفهوم دی چي حد نه لري. آزار ورکول له ریشخند وهلو، په چا پسي ناري وهلو، په ډېره ویشتلو او هر څه افاده کېدلای سي خو سزا پخپله د حد افاده ده او ځانته د ټاکلي ګناه لپاره  خپله اندازه لري.
په تفسیر یوسف علي کي همدغه کلمه په مجازات ترجمه سوې ده چي سمه نه ده.
په تفسیر کابلي کي هغوی ته ایذا یا آزار ورسوی. چي د کلمي صحیح معنا ده.
د سعودي عربستان په عربي پښتو تفسیر کي هم په ایذا یا آزار رسولو ترجمه سوې ده.
د اُذوهما کلمه په سزا او مجازات ترجمه کول د قرآن شریف په متن کي لاس وهنه ده چي په هیڅ توګه هیڅ چاته اجازه نسته.
د سعودي عربستان په عربي انګلیسي ترجمه کي د سورة النور ۲۴ آیة ۳۱ کي:
و قُل للمومنات یغضضن من ابصارهِنَّ و یحفُظن فُروجهُنَّ الآیة
فروجهُنَّ په حیا ترجمه سوی دی. او په تفسیر کابلي کي په صحیح معنا شرمګاه ترجمه سوی دی او دا د سعودي عربستان په تفسیر کي د کلمي په ترجمه کولو کي بې احتیاطي ده.
د سعودي عربستان عربي په انګلیسي تفسیر د ۲۴ سورة ۳ آیة د ینکِحُ کلمه چي د نکاح کولو معنی ورکوي په جنسي اړیکو ترجمه کړي ده یعني زناکاره سړی یوازي له زناکاري ښځي سره جنسي اړیکي درلودلای سي.  چي د آیة مبارک مفهوم او معنا ته تغییر ورکوي.
په تفسیر کابلي کي « زناکاره سړی یوازي له زناکاري ښځي سره نکاح کولای سي» چي صحیح ترجمه ده.
د سعودي عربستان په انګلیسی تفسیر کي د سورة یوسف ۱۲ آیة ۳ کي احسن القصص په تر ټولو ښکلي کیسه ترجمه سوې ده. په عربي پښتو تفسیر کي په صحیح معنا یعني تر ټولو بهتره کیسه راغلي ده.
د سورة البقرة دریم آیة: الذین یومنون بالغیب و یقیمون الصلوة و ممارزقناهم ینفقون:
په تفسیر کابلي کي ترجمه: هغو کسانو چي پر غیب یې ایمان راوړی، او سم لمونځونه کوي او له هغه څخه خرڅ کوي چي موږ ورته عطا کړی دی.
د سعودي عربستان په پښتوتفسیر کي: هغه کسان چي ایمان( باور) لرونکي دي په غیب باندي او قایموي دوی ( سم ادا کوي سره د ټولو حقوق) لمونځ او ځیني له هغو شیانو چي ورکړي موږ دوی ته صرفوي یې( د الله د رضالپاره) په قوسونو کي راغلي کلمات د مفسر یا مترجم دي چي په آیة مبارک کی نسته. البته د آیة په ترجمه کي د کلماتو د اضافه کولو حق هیڅ چا لره نسته او دغه راز په آیة مبارک کي یوازي لمونځ راغلی دی. د « سم» کلمه په دواړو ترجمو کي، د مترجم علاوه ده.
د سعودي عربستان په عربي پښتو ترجمه کي ۹۳ سورة پنځم آیة:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

و لسوف يُعطيکَ ربُّکَ فترضی: او خامخا ژر ده چي دربه کړي رب ستا ( اې محمده لويه برخه په آخرت کښي او اختيار د شفاعت) پس راضي به شې.
دلته په قوس کي کلمات د قرآن شريف د آية په ترجمه کي نسته نو مفسر له ځانه توري څرنګه اضافه کولای سي؟
د همدغه سورة ۷ آية: ووجدَکَ ضالاً فهدی. ته يې لار ورکی پيدا کړې او هدايت يې درته وکړ.
د سعودي عربستان په عربي انګليسي تفسير کي د ضالاً کلمه په سرګردان ترجمه سوې ده.
د سعودي عربستان په عربي پښتو تفسير کي: او موندلی يې وې ته چي نه پوهېدې( په شرع او احکامو د شريعت نو دروښوده ( تاته شرعي احکام او در يې کړ نبوت)
په دواړو قوسونو کي راغلي کلمات د قرآن شريف په متن کي نسته. مترجم يا مفسر له ځانه ورباندي اضافه کړي دي. که څوک له قرآن شريف څخه توری کمولای نه سي دغه راز يې اضافه کولای هم نه سي. او دواړه حالته يې د حق متعال په کلام کي لاس وهنه او ستره ګناه ده. او که څوک قرآن شريف ټکي په ټکي ترجمه کولای نه سي بايد چي له سره لاس ورنه وړي.
د فتنة کلمه د سورة البقرة په ۱۹۱ آية کي راغلې ده. فتنة په قاموس کي په تحريکولو، ښورښ کولو، بغاوت کولو، اختلاف، داخلي جنګ او... اخيستل سوې ده. که د صحيح بخاري« الکتاب الفتن» ته مراجعه وکړو نو ګورو چي هلته هم فتنة په دغه معنا راغلې ده. خو کله چي د قرآن شريف مختلفو ترجمو او تفسيرونو ته مراجعه کوو نو ګورو چي په هر تفسير او ترجمه کي يې معنا بل ډول اخيستل سوې ده.
په آية کي راغلي دي: والفتنةُ اشدُّ من القتل الآية.
( فتنة تر قتل سخته يا شديده ده)
په تفسيرکابلي کي: له دين څخه راګرځول( شرک) تر وژلو سخت تر دی.
د همدغه اية په تفسير کي يې راوړي دي: له دين څخه ګرځېدل او يا بل څوک له دين څخه را ګرځول، د حرام په مياشتو کي، تر قتل په څو څو واره شديد تر دی.
د قرآن شريف په انګليسی تحت اللفظی ترجمه کي فتنة په استبداد او ظلم معنا کړې او په وروسته کي يې همدغه کلمه په فتنة معنا کړې ده.
يوسف علي په خپل تفسير کي: فتنة اچول( شرک) تر قتل هم لويه ګناه ده.
په داسي حال کي چي فتنة له شرک سره اړه نه لري. او له حضرت رسول ص څخه چي له فتنې څخه د خپل امت د منع کولو په باره کي څه احاديث نقل سوي دي هغه يې هم د امير په مقابل کي د ښورښ کولو او د مسلمانانو ترمنځ د اختلاف اچولو څخه د پرهېز په باره کي توصيه کړي دي. د دې خبري علت واضح دی. په ريشتيا هم فتنة ځکه تر قتل سخته ده چي د فتنې په صورت کي ښايی په لس هاوو او کله هم په زرهاوو کسان ووژل سي خو د يوه سړي قتل د هماغه يوه سړي قتل دی. سړی نه پوهيږي چي مفسرينو او مترجمينو ولي فتنه په شرک او يا له دين څخه په ګرځېدلو او له دين څخه په راګرځولو ترجمه کړې ده.
داسي به په سلهاوو کلمات موجود وي چي، په مختلفو تفاسيرو کي، غلط او يا لړترلږه په بې احتياطی ترجمه سوي وي. اوس به نو هغه کسان چي ژبه يې عربي نه ده؛ څرنګه د هري کلمې لپاره دوه درې يا څلور تفسيرونه ګوري. او سړی ويلای سي چي په هغو تفسيرونو کي به چي د جلدونو شمېر يې ډېرش، څلوېښت او حتی اتيا جلده ته رسيږي مفسرينو څه هم نه وي ليکلي او د خلکو د رهنمايی کولو پر ځای به د څومره ګمراهی يا لږترلږه جنجال سبب سوي نه وي.
ځيني وختونه د قرآن شريف د آيتونو معناوي له اصل مطلب سره ښايی ډېر لږ توپير ولري خو همدغه لږ توپير وروسته نورو مفسرينو غټ کړی او همدغه ځيني واړه او ځيني لوی او کلی اختلافات دي چي په وروسته کي د سل هاوو تفاسيرو د منځته راتللو سبب سوي دي. دا لا نه ده معلومه چي په راتلونکو سلو او دوو سوو کلونو کي به نور څومره تفاسير وليکل سي او د څومره لارو د منځته راتللو سبب به سي. په دې تفاسيرو کي به څوک خپله لاره څرنګه پيدا کوي؟ ماته خو نه يوازي ګرانه بلکه غير ممکنه ښکاري. څومره به ښه وای چي قران شريف د خپلي هغي معنا سره سم ترجمه سوی وای چي حق تعالی نازل کړی دی او هيڅ ډول لاس وهنه پکښی سوې نه وای. په هغه صورت کي به د سمي او پر اصولی اسلام باندي برابري لاري پيدا کول څومره آسان وای.
په دې اړه علامه اقبال څومره ښه ويلي دي:

زمن بر صوفی و ملا سلام است
که پيغام خدا گفتند مارا
ولی تأويل ان به حيرت انداخت
خدا و جبرييل و مصطفی را.

هم صوفي او هم ملا ته سلامونه مي لېږلي
چي د جحق يې پيغامونه زموږ تر غوږه رسولي
خو تأيل يې داسي کړی د قرآن د آيتونو
خدای رسول او جبرييل يې په حيرت کي اچولي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

څو ورځي مخکي مي په ټلوېزيون کي د طالبانو له يوه مشهور مُلا رحيم الله حقاني څخه، چي په سل ګونو کسان ورته ناست ول، واورېدل چي شراب ناروا دي خو که څوک د عبادت لپاره د ځان د تقويه کولو په منظور يوه پياله وچښي نو هغه روا دي. دې مُلا د خپل حکم حواله پر امام ابوحنيفه او امام ابويوسف ورکوله.
په قرآن شريف کي يوازي د خمر کلمه راغلې ده او د قمار او بُت پرستی تر څنګ ناروا او د شيطان عمل بلل سوی دی. هلته اندازه نه ده ياده سوې. له بلي خوا پياله معلومه نه ده چي څومره اندازه يوه پياله کيږي.
همدغه د خمر کلمه د قرآن شريف په عربي انګليسي ترجمه کي په intoxicants يعني نشه کوونکو شيانو ترجمه سوې ده؛ چي د کلمې صحيح معنا نه ده. خکه چي نشه يې شيان پر هر نشه کوونکي شي باندي دلالت کوي؛ او اقسام يې ډېر زيات دي. خو په قرآن شريف کي مشخص د خمر کلمه ذکر سوې ده.
په تفسير کابلي کي خمر له سره ترجمه سوی نه دی بلکه يوازي خمر يې ورته ويلی دی؛ چي ډېر خلک د خمر ترجمه په مختلفو ډولونو کوي او ځيني خو وايي چي خمر يوازي هغو شرابو ته ويل کيږي چي له خرما څخه جوړيږي.
د سعودي عربستان په تفسير کي خمر په شرابو ترجمه سوی دی، چي د کلمې صحيح معنا ده. او په عربي انګليسی قاموس کي هم د خمر کلمې ته واين او شراب ليکل سوي دي.
اوس نو هغه عوام چي قرآن شريف يې يا لوستی نه وي يا يې لوستی وي خو په معنا يې نه پوهيږي د مُلا رحيم الله حقاني خبري واوري؛ هغوی به د شرابو په باره کي څه فکر وکړي؟ او د هغوی د ګمراهی مسوول به څوک وي؟
طبيعي خبره ده چي که مُلايان خلکو ته سمه لاره ښيي دغه ډول يې له لاري ايستلای هم سي او له لاري يې ايستلي هم دي. ما پخپله د مُلاصاحب له خولې دا وينا واورېده او په دې ټول پوهيږو چي شراب په قرآن شريف کي حرام دي او پر حرام باندي د حلال حکم کول يا پر حلال باندي د حرام حکم کول دواړه څرګند کفر دی او بل څه نه ورته ويل کيږي. زه نه پوهېږم چي ملايانو پر دغه مُلا رحيم الله باندي څرنګه د کفرحکم نه دی کړی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ